# د ژبې د ځانګړې زده کړې په اړه معلومات

**د ژبې ځانګړې زده کړه درې برخې لري:**

۱. د ناروېژي ژبې ځانګړې زده کړه (Særskilt norskopplæring): له سویې سره سمه د ناروېژي ژبې اضافي زده کړه

۲. د مورنۍ ژبې زده کړه (Morsmålsopplæring): د زده کوونکي د مورنۍ ژبې زده کړه

۳. په دوه ژبو د درسي مضمونونو زده کړه (Tospråklig fagopplæring): په ناروېژي او مورنۍ ژبه د مضمونونو زده کړه (لکه ټولنیز او طبیعي علوم او د ځانګړې تحصیلي رشتې اړوند مضمونونه)

د ښووني او روزني قانون له مخې، د ثانوني زده کړو (§ 3-12) هغه زده کوونکي، چې مورنۍ ژبه یې له ناروېژي او سامي پرته نورې ژبې وي، تر هغې پورې د ناروېژي ژبې د ځانګړې زده کړې حق لري چې په ناروېژي ژبه کې پوره وړتیا تر لاسه کړي او و وکړای شي په ښوونځي کې عادي درسونه او درسي نصاب تعقیب کړي. یاد زده کوونکي حق لري چې د اړتیا په صورت کې په مورنۍ یا ناروېژي ژبه او یا هم په دواړو ژبو زده کړه تر لاسه کړي.

د ناروېژي ژبې ځانګړې زده کړه تر هر هغې پورې زده کوونکو ته وړاندې کېږي چې وکولای شي په ښوونځي کې عادي درسونه او درسي نصاب او یا د ځانګړې تحصیلي رشتې اړوند مضمونونه (پروګرام فاګ) تعقیب کړي. د اړتیا په صورت کې زده کوونکي کولای شي د مورنۍ ژبې زده کړه او یا هم په مورنۍ او ناروېژي ژبه د درسي مضمونونو زده کړه تر لاسه کړي.

د ژبې د ځانګړې زده کړې موخه دا ده چې زده کوونکي په ناروېژي ژبه کې په کافي اندازه وړتیا ترلاسه کړي تر څو په ښوونځي کې عادي درسونه تعقیب کړای شي. د درسونو په جریان کې د زده کوونکو په اړه معلومات را ټولېږي. کله چې زده کوونکی په کافي اندازه ناروېژي ژبه زده کړي، د ژبې ځانګړې زده کړه یې پای ته رسېږي.

**کله چې ښوونځی د ژبې د ځانګړې زده کړې سپارښتنه کوي، څه به کېږي؟**

- کله چې زده کوونکي ثانوي زده کړې پیلوي، ښوونځی د ټولو زده کوونکو په هکله معلومات راټولوي. هغو زده کوونکو ته د ژبې د ځانګړې زده کړې سپارښتنه کېږي، چې په ناروېژي ژبه کې ستونزې لري.
- هغه زده کوونکي چې په ناروېژي ژبه کې ستونزې لري، د ښوونځي له خوا یوې معلوماتي غونډې ته رابلل کېږي.
- ښوونځی پرېکړه کوي او زده کوونکي او یا د زده کوونکي مور او پلار ته یې استوي.
- د زده کوونکي مور او پلار د پرېکړې په اړه شکایت کولای شي.

- ښوونځی د زده کړې په اوږدو کې د زده کوونکي په هکله معلومات راټولوي. که چیرې زده کوونکی په ناروېژي ژبه کې د قناعت وړ کچې ته رسیدلی وي، نو د ناروېژي ژبې عادي نصاب به تعقیبوي.

**د ناروېژي ژبې د ځانګړې زده کړې د و ړاندیز د منلو ګټې څه دي؟**

- تاسو په ناروېژي ژبه کې اضافي او له خپلې سویې سره سمه زده کړه تر لاسه کوئ
- تاسو د ثانوي زده کړو په مضمونونو کې د بریالتوب چانس لرئ او په دې توګه د لوړو زده کړو وړتیا (studiekompetanse) تر لاسه کوئ او د لوړو زده کړو په موسسو کې شاملېدلای شئ.
- تاسو اړتیا نلرئ چې په نینوشک ژبه کې آزموینه ورکړئ.
- که اړتیا وي، کولای شئ په ثانوي زده کړو ۵ کاله تیری کړئ.
- تاسو کولای شئ د هغو کسانو د تعلیمي نصاب له مخې آزموینه ورکړئ چې لنډ وخت په ناروې کې اوسېدلي دي او یا هم په ناروېژي ژبه کې ستاسو له سویې سره سم درسي پلان تعقیب کړئ.

**یادونه!**

که چیرې ښوونځی تاسو ته په ناروېژي ژبه کې د اضافي زده کړې وړاندیز وکړي، خورا مهمه ده چې تاسو دا وړاندیز ومنئ.